# مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ، يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ، أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ، فَاقْتُلُوهُ». «ځوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې تاسو ټول په يو سړي راغونډ شوي یاست، غواړي چې ستاسو منځ کې درز او تفرقه واچوي، او يا مو جماعت سره بیل کړي، نو ويې وژنئ

له عرفجة رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ، يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ، أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ، فَاقْتُلُوهُ».
«ځوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې تاسو ټول په يو سړي راغونډ شوي یاست، غواړي چې ستاسو منځ کې درز او تفرقه واچوي، او يا مو جماعت سره بیل کړي، نو ويې وژنئ».
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیانوي چې کله مسلمانان پر يو چارواکي سره راغونډ شول، او يا په يو جماعت سره راټول شول، بيا يو ځوک راشي او د واک پر سر ورسره شخړه وکړي، نو پر دوی يې منع کول او ورسره جګړه کول واجب دي، تر څو يې شر دفع شي، او د وينو توېدلو مخنيوی وشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58223